مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال

۲۰۲۳/۰۹/۲۹

# که انسان نه وی تاریخ به نه وی

## دریمه برخه

## افغانستان له تاریخ نه د مخه

موږ د مخه وویل چې د بشر په تاریخ کې د وروستیو علومو وده او پرمختګ د پام وړ د ی، لکه انتروپولوژي (د انسان طبعی تاریخ)، انتولوژي، سوسیولوژي او په ټوله کې د بشر پېژندني، ټولنپوهني، لرغونپوهني او د نورو پوهنو په رڼا کې ،څېړونکو د لیک لوست له پیدایښت د مخه انساني ټولنې ته، له تاریخ نه پخوا پېریا قبل التاریخي دوره ویلې ده .

یو شمېر څېړونکو چې کومې څېړنې په دجلې، فرات، اکسوس، اندوس او هلمند (په لرغونو اثارو کې هېرمنه ، هرمید یاد شوی دی) په سیمو او حوزو کې کړیدی، د بین النهرین پراخه سیمه د تمدن لومړی ټاټوبی ګڼل شویدی .

پروفیسور «هرزفلد» د نورو سیمو د څېړنو په ترڅ کې د هلمند سیمه له تاریخ نه د مخه پېر کې د هغه مهال لرغونو انسانانو لپاره د ژوند کولو یوه ښه سیمه بللې وه.

نه یوازې د هلمند سیمی بلکې د ارغنداب د رود په غاړه پرتې ځمکې او همدغسې له افغاني سیستان نه راواخله د امو د سین تر غاړو سیمې د انساني ژوند لپاره ډېرې مساعد ې او په زړه پورې وې .

د افغانستان ډېرې سیمې له تاریخ نه وړاندې دوره کې نه یوازې اریایایي ټبر ته د استوګنې یوه غوره حوزه وه، بلکې له اریایي وګړونه د مخه هم زموږ د هېواد بېلابېلې سیمې د نا اریایي ټبر استوګنو ته ګټورې وې.

د ډېرې په لومړي پېر کې د لومړني انسان ژوند تر ډېره بریده په غارونو او سمڅو کې وواو څرنګه چې افغانستان یو غرنی هېواد دی، نو د سمڅو او غارونو ژوند د پنځه سوو زرو کالونه را پدې خوا په اسیا کی دود وواو د ۴۵۰ زرو کالو، په وروستیو «۵۰» زره کالو کې ښکاریانو د اسیا په ډېرو هېوادونو کې، چې موږ چین، افغانستان ،(هند ،مینځی اسیا ...لیکوال )او ایران د بېلګې په توګه یادولی شو ژوند کاوه.[1]

د وخت شوروي پوهانوهم په سمڅو کې د ژوند په تړاو ډاګیزه کړېده، چې له تاریخ نه پخوا د امو سین به غرنیو سیمو کې د وخت لومړنیو انسانانو په غارونو کې ژوند تېراوه او د هغه مهال د غارونو ژوند د آمو سین، هلمند سین او د سیند حوزو کې ډېر نامتو وو او د ژوند ډېرې اسانتیاوې درلودې.

په ټوله کې د ژوند کومې اسانتیاوې چې د کار د وسیلو او وسلو له مخې یې د ښکار غوښې تر لاسه کولې او یایې نورې اړتیاوی پدغو ابزارو سرته رسولې، عمر یې د «کاربن ۱۴» اصولو له مخی ټاکل کیږي .

په دغه لړکې تر لاسه شوي توکي دا ښیې، چې ښایي عمر یې د ۵۰ زرو کالو په شاو کې وي او کوم توکي چې د قره کمر له سموڅی څخه ترلاسه شول او د کاربن ۱۴، تجزې له مخی په فیلادلفیا او شیکاګو کی وکتل شول، په ډاګه شوه، چې عمر یې له نن نه د ۵۰-۳۰ زرو کالو ته رسیږي.

د سیستان په ناد علي سیمه، د ایران په سهل او د کوتې په رولایي کې، هم کوم لرغوني توکي چې تر لاسه شویدي هغو خلکو پورې اړه لري، چې په ختېه اریایان نه ول، د کیمیاوي تجزې او تجربې له مخې (کاربن ۱۴) څرګنده شوه چې د قره کمر د سموڅې توکې د ډېرې لرغوني پېر، مینځني او معاصرو پېرونو پورې تړاو درلود.

د دې لپاره چې له تاریخ د مخه پېر په اړه د افغانستان له بېلابیلو سیمو څخه په لنډه توګه معلومات تر لاسه کړو، د څو بېلګو یادونه کوو:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

**۱-هزارسم (زرسموڅي)**
د اوسپنې او فلز له پېر نه د مخه د ډبرې په بېلابېلو پېرونو کې، د انساني ژوند کومې وسيلې تر لاسه شويدي داسې انګېرل کيږي، چې له اريايانو نه د مخه کوم توکم او وګړي چې پدې خاوره استوګن ول ، له څنو نښو نښانو نه څرګند بږي، چې عمر يې لسګونو زرو کالو ته رسيږه.
له سمنګانو، بلخ، هلمند، بدخشان، کندهار، غزني او د هېواد له نورو سيمونه نه تر اوسه چې کوم توکي او اثار تر ګوتو شويدي يو ټاکلی زمان او مکان را په ګوته کوي، چې د دغو په لړ کې يو هم هزار سم دي.
زر سموڅې د سمنګانو په ۱۶ کيلو متري کې پرتې دي، چې په د ېوالويی يو شمېږ انځورونه هم کښل شويدی.
لرغونپوهانو د خپلو څېړنو په ترڅ کې د زر سموڅو انځورونه د هغو اروپايي هېوادونو لکه هسپانيه، ايتاليا، سويس او ايرلېنډ انځورونو سره پرتله کړيدي، چې د دغو هېوادونو، له تاريخ نه پخوا لرغونو توکو سره ورته دي.
د زر سمو څو په انځورونو کې د انسانانو او ځاروېيو عکسونه ليدل کيږي، چې عمر يې لرغوني او مېنځنۍ ډبرې (چې ۵۰۰۰۰ کاله شاوخوا په ګوته کوي) ته رسيږي.
د لرغوني مېنځنۍ (چقمق middle Paleolithic) او معاصرې ډبرې پېرونه نه يوازې په زر سمو څو کې محدوديږي بلکې د دغو توکو او اثارو پرتله د افغانستان په يو شمېر نورو سيمو کې هم تر سترګو شويدي.
Eiddtta castaldi او Louis Dupree د څېړنو پر بنسټ کوم لرغوني توکي چې د لغمان په اليشنګ کې ليدل شويدي د زرسمو څو له توکو سره د پرتلې وړ ګڼل شويدی،که څه هم د لرغونتوب له مخې دهزارسم توکي پخواني دي.[2]
کوم لرغوني توکي، چې له تاريخ نه د مخه د ډبرې پېرونو يا د فلز د دورې په مهال کښل شويدي، يو ټاکلی زمان په ګوته کوي، چې د هېواد له بېلوبېلو سيمو نه تر ګوتو شويدي. لکه د سمنګانو له دادل درې، چخماخ درې، هزار سم څخه، د بدخشان له کور درې، د غزني له ناور، د خلم له قره کمر، د بلخ له آق کپروک، د کندهار له مونډي ګک، د سيستان له نادلي، د هلمند له مصنوعي غونډۍ او نورۍ سيمې يادولی شو، چې له دغو سيمو څخه ختين لوښي، ډبرين توکي، له خاورين توکو سربېره فلزي او برنجي ډول ډول توکي ، داوزې اوبوشمېرنوروڅار وبيوانځورونه،ګلدانونه او داسې نورتوکي ترګوتو شوي چې له تا ريخ نه پخوا پېرپورې اړه لري .
د هزار سم سيمې د جغرافيوی جوړښت له مخې، له تاريخ نه د مخه دوره کې ځانګړی ارزښت درلود. هغو کاروانونو چې د دوه موهموبودايي پلازمينو تر مينځ، چې د هېواد په شمال کې د ايبکو تخت رستم او د هندوکش په سهل کې باميان ، چې کا ر وا نونو به تګ و راتګ درلود، د هزارسم درې ته يې ځانګړي دب دبه ښنلي وه.
که څه هم د بودېزم له خپرېدو د مخه هم د هزارسم سيمه د هغه مهال وګړو ته د استوګنې لپاره داسې موهمه وه لکه څنګه چې د قره کمر سيمه د پام وړ وه، د دې سيمو ترمينځ هغه جغرافيوي خپلوي وه، چې هم د سمو څو جوړښت سره ورته وه او هم يې د مونډل شوو توکو بڼه...
د ايټالوي کار پوهانو پلاوي (۱۹۶۱ ز کال) څو ټکو ته ګوته نيولې ده. لومړی دا چې هزار سم د هغه مهال د وګړو لپاره د استوګنې يوه ډېره موهمه سيمه وه او دويم دا ، کله چې د هزار سم سيمې د استوګنې ارزښت خپل کړ، بيا نو هغو کاروانونو، چې توکي يې په ځاروېيو لېږدو ل ، نه يوازی د هندوکش دو ا ړو غاړو ته تلل او راتلل بلکې مېنځنۍ اسيا ته يې هم تګ و راتګ پيل کړ.
هزار سم له لرغوني ډبرې را واخله د بودېزم تر خپرېدو پورې يوه موهمه سيمه وه د دې سموڅو او سيد ونکو ورو رو کرهنې ته مخه کړه او له بودايي پېرنه راواخله د اسلام تر خپرېدو پورې، دې سيمې خپل ارزښت خوندي کړي وو.
**۲- شمشېر غار**
په ټوله کې افغانستان يو غرنی هېواد دی، په هر سيمه کې په لسګونو طبعی سموڅې شتون لري، چې يو وخت انسانانو پکې ژوند کاوه او کله چې د استوګنې کورونه جوړ شول، نو بيا به يې په دغو سموڅو کې ځاروي ساتل او روزل.
لرغونپوهانو چې د افغانستان کومو سيمو ته لاس رسی پيدا کړيدی او يو شمېر سموڅې يې له نږدې ليدلې دي، چې پدغه لړ کې يو هم «شمشېر غار، چې د کندهار لويديز اوسهل لويديز کې پروت دی دبېلګې په توګه يادولی شو.
د هغو کند نو له مخې چې په دغې سيمه کې د نيويارک د موزيم يوه لرغون پوه « لوی د يو پره چې په ۱۹۰۱ ز کال کومه څېړنه کړېده، دغه غار يې د ځانګړي جوړښت له مخې يوه تاريخي سيمه بللې ده.
که څه هم دی انګېري، چې له تاريخ پخوا دلته د استوګنې نښې نښانې ندي تر سترګو شوي، ولې د کوشانيانو، ېپتليانو او ساکانو په مهال ان د اسلام د سپېڅلی دين تر خپرېدو پورې، انسانان دلته مېشت او ودان ول .
- له تاريخ نه دمخه ، يوه بله موهمه سيمه چې د هغه مهال انسانان پکې استوګن ول، هغه د هلمند او ارغنداب تاريخي سيمه وه چې اوږد تاريخ لري. پدغه سيمه کې د فرانسی اوامريکا لرغونپوهانو په بېلابېلو وختونو کې خپلې څېړنې کړيدي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په ۱۹۳۶ ز کال فرانسوی کار پوه پوهاند هاکن او د قبل التاريخ متخصص پروفيسور گرشمن په مرسته کومي کندني چي پدې لوی پراخي سيمه کې کړيدي، دايي په گوته کړېده، چي له تاريخ د مخه پېرکې ،که وګړو يې له يوې خوا په سموڅو کې ژوند کاوه، خو له بلې خوا د يوه مناسب اقليم درلودونکو سيمي په توګه دلته د ماهيانو او ځاروېو ښکار هم کاوه، چي موږ ارغنداب، هلمند، سيستان، چاربرجک، ترنک، فراه، جووين، پنجوايي او د منډيګک غونډې د ساري په توګه يادولی شو.

کله چي پروفيسر هاکن د دې سيمي په ارزښت پوه شو، د پرلپسي مقالو او ليکنو له مخې يې د ډېرو لرغونپوهانو پام دې سيمي راواړو، نو ځکه خو د امريکا او فرانسي کار پوهانو په ۱۹۴۹، ۱۹۵۰ او ۱۹۵۱ کلونو کې خپلي کندني او څېړني پراخي کړې او دايي د خپلو سپړنو له مخې ډاګيزه کړه، چي له تاريخ پخوا، انسانان دلته د هغه مهال له مخي د ښه ژوند ښتن ول.

**۳- منډيګک**

د لومړني کار په توګه کله چي د فرانسي د لرغونپوهانو د پلاوي مدير موسيو ګرشمن په افغانستان کي کار وکړ، نو بيا د ۱۹۵۰ کال د سروې له مخي د هر چا پام دېته شو، چي په يو شمېر کندنو لا سپوری کړي د دغو کندنو په ترڅ کې يوه ډېره موهمه غونډۍ چي د منډيګک پنوم ياديږي وموندل شوه.

د څېړنو په ترڅ کي څرګنده شوه چي پدغه غونډۍ کي د پنځه زره کالو په شاوخوا کي له تاريخ نه پخوا دلته دانسانانو ژوند يقيني وو. دغه غونډۍ د کندهار په شمال لويديز د کشک نخود په سيمه کې، شاه مقصود غره ته څېرمه موقعيت لري.

لکه څرنګه چي د زر سموڅو جغرافيوي جوړښت د باميانو او سمنګانو تر مينځ کاروانونو ته د پام وړ وو، دارنګه د منډيګک سيمي هم د ارغنداب ااو هلمند تر مينځ د کاروانونو تګ و راتګ ته زمينه برابره کړې وه.

د کندنو له مخي معلومه شوه، چي دلته څو پوړيزه لرغوني ماني اوا باديې په ښلابيلو وختونو کې جوړې شويدي او دا په ګوته کوي، چي له تاريخ نه پخوا پدغه غونډۍ کي انسانانو ژوند کاوه او ورووړو يي کرهني او مالداری ته مخه کړه.

که چېرې د نړۍ لرغونپوهان د اوسنۍ پرمختللي تکنالوژي له مخي د افغانستان په ښلابښلو سيمو، غرونو او غونډېيوکي کندني او څېړني وکړي. ښايي ډېر داسي څه تر ګوتو کړي، چي د قبل التاريخ ډېر تياره ګوټونه روښانه کړي.

موږ چي کومي ښلګي دلته وړاندي کړي، دا هغه سيمې او غونډيکاني وې، چي تر اوسه پورې لرغونپوهانو کندني او څېړني کړيدی. ښايي په راتلونکي کې داسي سپړني ترسره شي، چي د تاريخ او قبل التاريخ تت ګوټونه وځلوي.

موږ د تاريخ نه د مخه او تاريخي پېر تر مينځ د نيمه تاريخي پنوم يوه بله دوره هم لرو، چي بايد ورته تم شو او پدې هکله هم يوه څه رڼا واچوو.

د ليک لوست له ايجاد او پيدايښت (۳۰۰۰ – ۳۵۰۰ مخزيږ دي) نه د مخه «موږ د هېواد نيمه تاريخي دوره د ويدي سرودونو له ويلو سره راپيليږي، دا وخت لا خط ندی اختراع  شوی خو اريايان د لرغوني اريانا، يا د اوسني افغانستان په شمال کي استوګن شوی ،پنځېدلي، لېږدېدلي اوکوچياني ژوند يې پيل کړی وو...» [3]

که څه هم د نړۍ اوسنيو ليکدودونو او ليکنو ته ورته ليک نېټي يادونه وشوه ، ولې يو شمېر ژېپوهان پدې اند دي، چي انځوريز او تصويري ليک د مخزيږ دي نه ۶۰۰۰ کاله د مخه کښل شويدی.

ښايي د افغانستان په نيمه تاريخي پېر کې هم داسي ښلګي شتون ولري، يا خو تر اوسه موندل شوي ندي او يا به د زماني توپان پخپلو خونړيو منګلولو کي د هغه وخت نښې نښانی مروړلي وي . لکه څرنګه چي د اوستا لرغونسخو ته يو نه هېريدونکې او نه په لاس راتلونکی زيان ورسيد، کېدی شی، چي ويدي سرودونو ته هم اوښتی زيان د لرغونو اريايانو هغه دب دبه بيا را غبرګه نکړي.

د مثال په توګه، موږ په روايتي بڼه تل دغه خبره کړې او کوو يې، چي افغانستان پنځه زره کلن تاريخ لري ، ولې اوس دغه روايت يو څه رښتني بڼه خپله کړېده اوان داسي انګېرني لا هم شتون لري چي دغه عمر ۶۰۰۰کلن ښيي .

هغه نيمه تاريخي او نيمه افسانوي کيسي او استورې، چي په اريايي سرودونو کي به يې يادونه کېده، د لرغونپوهانو د کندنو په پايله کي خپل رښتنتوب څرګند کړ.

موږ د مخه د منډيګک د غونډۍ يادونه وکړه، چي د خپلو توکو پر بنسټ يې د افغانستان پنځه زره کلن تاريخ وځلوه او يا له تاريخ نه د مخه پېر، څرک پکي وپنځېد.

د قبل التاريخ متخصص، فرانسوي لرغونپوه «موسيوکزال» د خپلو سپړنو په ترڅ کي ووېل، چي د منډيګک په غونډۍ کي په ښلابېلو وختونو کي پنځلس (۱۵) پوړيزه ودانی ابادې شوي دي.

دا يوازې د افغانستان په اوسنۍ جغرافيه کي نه، بلکي په ټوله سيمه کي له امو سين نه راواخله تر هلمنده، ارغنداب ان تر سينده پورې د دغې جغرافېي موندل شوي توکي يو د بل سره ورته دي.

د ساري په توګه هغه مهال، چي مروې ته نږدې د «انو» په سيمه کي د مس کاروني توکي تر سترګو شول، يا کوم خاورين، ډبرين او له لرګيو نه جوړ شوي لوښي افغانستان کی او يا افغانستان ته څېرمه يو شمېر سيمو کې او يا د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ګاونډيو هېوادونو په موزيمو کې ولټول شي، تر ډېره بريده سره ورته دي، لکه د پنجاب په هړپه، موهن جوديرو، ټکسلا او نور.
د ټکسلا د موزيم په ډېرينو انځورونو کې (ليکوال پخپله موزيم کې وليدل) ډېر داسي څه لکه ډبرين او فلزي لوښي، مرۍ، ډبرين غمي، يو ډول کاني ښکلي ګاڼې او فلزي سنتې تر سترګو کيږي، چې د افغانستان، هندوستان او يو شمېر د نورو هېوادونو په موزيمونو کې خوندي دي.
ما داسي نښي نښاني وموندلي چې يو شمېر توکي د اريايانو له کډوالی د مخه جوړ شويدي او د بوديزم له خپرېدو وړاندي پېر پوري اړه درلوده، ولي يو شمېر نورو توکو بيا راوروسته پېرونو سره تړاو لاره.
«د سيند د وادي تر تاريخ د مخه مدنيت، چې د افغانستان په ختيزه خوا کې د هړپه او موهن جوديرو تر مينځ يو زر ميله (د بابل د تمدن د ساحې څلور برابره او د مصر د تمدن د پراختيا دوه برابره) په يو شکل او ډول خپور شوي وه، د ودانيو د جوړوني شکل او د خاورينو لوښو او د کار د سامان اووسايلو په جوړښت کي بيخی سره ورته دي.»[4]
سره د هغې چې تاريخپوهان د افغانستان په شمول د ګاونډيو هېوادونو يو شمېر سيمې نيمه تاريخي ګڼي او يا د غه نېټه چې د ۶۰۰۰ زره کالو شاوخوا يي ټاکلې ده، يو شمېر لرغونپوهان له دې پولې پېنه اړوي او د ډېر ليکونو (epigraphy) د پوهي پر مرسته، چې د ليکنو نېټې يي له زيږ دي نه اوه زره کاله د مخه تېره شوېده، ټاکي .«ولي ځني څېړونکي دا نه مني او داسي انګېري چې لومړی فنکيان، بيا مصريان او ورپسي سومريان دي، چې د ټاکلی مودې له مخې د ځنو توکو لرغونتوب خوندي کړيدی ، دا ځکه همدا دوئ وه چې په ليکدود لرلو بريالي شويدي.»[5]
د ليکدود په تړاو چې تر اوسه کومي انګېرنی او څېړني شوی او موږ ته رسېدلی دي لومړنی تر لاسه شوی ليکدود د هېروګليف «hierogitph» د ليک په نوم يادوي چې يو شمېر سمبولونه او ځانګړی نښي يي کارولی.
په افغانستان کې تر لاسه شوې نښي نښاني دا ښيي، چې په تاريخي پېر کې لومړی ليک چې تر سترګو شوی هغه «ارامي »ليکدود دی.
له نيمه تاريخی پېر نه،چې کله تاريخي دورې ته ګام اړول کيږي، نه يوازې د ليک پيداښت دی، بلکې د ټولنيزو ارزښتونو او جوړښتونو پراختيا او پرمختيا هم ده .
په افغانستان کې هم ټولنيز بنسټ د کورنۍ له خوا کېښودل شو، بيا د کورنيو له ټولګو نه قبيله جوړه شوه ، که د کورنی مشر پلار وه، خو قبيلې هم د خلکو له مينځه يو مشر و ټاکه او وررورو خبره د اريايانو کډوالی ته ورسېده، چې په پای کې د يوه تشکيل له مخې د سبها او سمېتي پنوم جرګې مينځته راغلی .
په اقتصادي لحاظ هم کرهني ته مخه شوه، د څارويو د روزنې لپاره مناسب څړ ځايونه وموندل شول ، ولسي ادبياتو پراختيا وموندہ، ولسي سندري، يو شمېر منظم دودونه او پلکلوريکی کيسي خوله په خوله يوه نسل نه بل نسل ته لېږدېدلی.
که له يوې خوا په ټولنيزو، سياسي او اقتصادي چارو کې پرمختګ مينځته راغی، خو له بلې خوا د انسانانو په شعور او فکر کي هم ژور بدلون رامينځته شو، چې د يو شمېر نوښتونو جوګه شول.
خو څومره چې په افغانستان کې د لرغونو توکو شتون دی، په دې اړه موږ د مخه د کاربون ۱۴ تکنالوژي د هغو توکو د عمر د اټکلني لپاره کارېږي، چې په ځان کې عضوي مرکبات ولري.
په بل عبارت ساينسپوهان د دې مېتود پر مټ کولی شي په توکو کې د عضوي مرکباتو د ورستو شوو راديو اکتيف کاربن ماليکولونو د ځانګړتياو معلومولو سره د اړوندو توکو عمر اټکل کړيدی.
د کاربن ۱۴ تکنالوژي تر څنګ اوس د (ډي ان اې DNA ټستونو) ياد جنيټکي ازمويني ميتود هم کارېږي، خو په دې توپير چې جنيټيکي ازموينې د «جينونو» کورموزومونو او پروټينونو تشخيص سره د ژوو هويت اويا نورو ژوو سره يي خپلوي په ګوته کوي. کاربن ۱۴ د کاربن راديو اکتيف بڼه ده او ډي ان اې د جنيټيکي ازموينی بڼه په ګوته کوي.

**د ليک پيدايښت**

د انسانانو له نوښت نه ډکه يوه تاريخي پېښه د ليک پيدايښت وه، چې د ډېرو برياوو پر مخ پرتې ستونزې يي له مينځه يووړې.
دا د انسان د پوهي او شعور وده او پرمختګ وه، چې يو د بل پسي ټولنيزو ارزښتونو ته پراختيا بخښله او هم يي يو دبل پسي نوې نوښتونه او اختراع ګانې رامينځته کولې.
د دې لپاره چې انسان د خپلی پوهي برياوې نورو ته ورسوي او يا يي راتلونکي نسل ته په ميراث پرېږدي، د خپلو مادي او معنوي ارزښتونو د نمانځنی لپاره يي د ليک نښو يو ټولنيز قرار داد رامينځته کړ، هم يي تصويري او انځوريزه بڼه ورکړه او هم يي د خپلو نوښتونو او اختراګانو نخشه وکاګله.
که څه هم د تصويرونو او انځورونو کاږل او کښل له انسان سره يوځای مل وو. ان هغه مهال چې وګړو په سمڅو او غارو کې ژوند کاوه، د ډېرو پر مخ يي ځني هغه طبعي توکي، چې دوېته يي ګټه رسوله رسمول.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دغه ډول نښې نښانې، نخشې، انځورونه او تصويرونه، د نړۍ د ډېرو هېوادونو په لرغونو توکو کې تر سترګو کيږي، خو تر اوسه لا دغه په بشپړه توګه سپينه شوې نده، چې کوم قوم، کومې سيمې او کوم هېواد د لومړي ځل لپاره د دغې وړتيا او پياوړتيا وس پيدا کړ، چې د داسې يو ستر کار جوګه شول؟

تر اوسه خو د ځېړنو هغه برخه لوڅه شوې، چېرته چې لرغونپوهانو کېندنې او ځېړنې کړيدي، دغه ستونزه له هغې ستونزې سره ګډه پوله او تړاو لري، چې اوسنۍ تکنالوژي دغه خبره په يقيني توګه نده سپړلې، چې لومړنی انسان کله او چېرته د نړۍ پر مخ وزېږېد؟

سره د دې ټولو ستونزو او کړاوونو ، بيا هم ژبپوهان او لرغون پېژندونکي انګېري، چې له مخزيږدي نه «۶۰۰۰» کاله د مخه يو انځوريز او تصويري ليکدود رامينځته شو، خو د هر چا لپاره د ليکلو او لوستلو وړ نه وه. مانا دا چې ډېر ګران ځکه وو، چې د شيانو د انځورونو کاږل د هر چا کار نه وه او هر چا د رسم ايستلو وړتيا او استعداد هم نه درلود اودجغرافيوي جوړښت له مخې دچاپېرياڵ ټول توکي يوشان نه وو،چې انځوريز شي .

د وخت په تېرېدو او د تجربو په زياتېدو، يو شمېر مخکښو او نوښتګرو انسانانو د ليک لوست ځانګړنې نښې او سمبولونه اسا نه کړل او د يوه تولنيز قرار داد او هوډ له مخې د کښلو سپارښتنه وکړه.

د مخزيږ دي ۳۳۰۰ کالو په شاوخوا کې د تېر په پرتله د ليک لوست نښې نښانې نورې هم اسانه شوې، ان تر دې چې د يوه ليک په بڼه يې يو شمېر تاريخي پېښې، د مذهبي عقايدو او استورو ارزښتونه او نور ټولنيز پرمختګونه وليکل، چې بيا يې دغه ليکونه د هيروګليف (هيروغليف hieroglyph) او ميخي ليک ډول پنوم ياد کړل.

دغو دواړو ليکډولونو سرچينه له انځوريز او تصويري ليکډول نه تر لاسه کړه. د هېروغليف ليک نښې د لومړي ځل لپاره په لرغوني مصر او وروسته بيا د بين النهرين په سومر کې وليدلی شوې.

مصريانو د دغه ليک پر مټ د خپل هېواد مذهبي دودونه، ادبيات، ولسي کيسې د نمانځنې په ډېوالونو وليکل. يونانيانو بيا دغه ليک د هېروغليف د سپېڅلي ليک پنوم ياد کړ.

دويم ليکډول، د ميخي (پيکاني) پنوم يادېږي چې لومړی ځل د دغه ليک نښې په سومر دره کې وموندل شوې، چې وروسته له دغه ليک نه اکديانو، بابليانو او د آشوريانو وګړو ګټه واخسته، چې وروړو يې خپلو نورو ګاونډېيو هېوادونو ته هم لاره وکړه.

يو شمېر ژبپوهان په دې اند دي چې له مخزيږ دي نه ۲۵۰۰ کاله د مخه (يو شمېر ۱۱۰۰ ق م ښيي) د هېروغليف الفبا، د لومړي ځل لپاره فنقيانو وکښله، چې ۲۴ حروف يې درلودل.

داسې انګېرنې هم شته چې په ختيځو توکو باندې د داسې نښو او سمبولونو توړل شوي انځورونه، چې د شمېرو د نښو ښکارندوي وکوي او په حساب و کتاب کې وکاريږي د زيږد ي نه شاوخوا ۸۰۰۰ کاله د مخه را ځرګند شول، چې بيا نه يوازې د شمېرو، بلکې د مفهومونو او د پوهېدا لپړد لپاره هم کارېدل.

په ټوله کې باور دا دی، چې تر ټولو پخوانی ليک ۵۵۰۰ کاله د مخه مېسوپوټامېا mesopotam يا بين النهرين سيمه کې را ځرګند شو.

**په افغانستان کې د بېلوبېلو ليکدودونو ليکښې**

لکه څنګه چې د هېروغليف ليک، نښې نښانې په لرغوني مصر او د ميخي ليکډول څرک په سومر دره کې وموندل شوې، دارنګه ا رامي ليکډول هغه مهال دود شو چې ارامي arameans وګړو، د فنيقيانو له خوړتيا او کمزورۍ وروسته (د ۵۸۶ م ز په شاوخوا کې)، کله چې د وچې له لارې سوداګريزې چارې تر خپلې ولکې لاندې راوستې، نو په دجله او فرات کې ارامي ليک، د اشوري ليک پر ځای وکارول شو، چې په ډېرې چټکۍ له مصر نه راواخله تر هند پورې خپور شو. ارامي وګړو له مخزيږ دي نه پنځلس ۱۵ پېړۍ وړاندې لومړی په عربستان، بيا همدغسې د سوريې تر شماله پورې خپله واکمنې وغوځوله.

تر اوسه چې کوم لرغونی ډېر ليک پدې اړه تر سترګو شويدی له مخزيږ دي نه ۸ پېړۍ وړاندې د سوري له شمال نه تر ګوتو شو.

ارامي ليک دود يو شمېر اسيايي هېوادونو ته هم لاره وموندە، له هخامنشيانو (۵۵۰ – ۳۳۰ م ز) نه راواخله تر راوروسته پېرونو پورې ان د افغانستان ديوشمېر سيموپه شمول يو شمېر نورو هېوادونو دغه ليکدود خپل کړ.

په افغانستان کې د دغه ليک په تړاو چې کوم څه تر لاسه شويدي د يونانيانو د واک او ځواک مهال په ګوته کوي. په دغه سيمه کې ارامي خط له يوناني او خروشتي دمخه وو او خروشتی ليک هم له ارامي ليک نه راوتی دی، چې له ښې اړخ نه کيڼ ته ليکل کېده.

د هخامنشيانو د ټولواک کوروش په مهال (۵۵۰ – ۵۲۹ م ز) او ورپسې د داريوش (۵۲۲ – ۴۳۶ م ز) د ټولواکمنيې د وخت په اثارو کې ارامي ليکدود او هم ارامي ژبه شامله وه، چې ختيځه لهجه يې بلله او د سلطنتي کورنۍ ليکدود يې ګڼله.

په افغانستان کې تر دغه دمه پدې اړه کوم ډبر ليک او اثار ندي تر لاسه شوي. که څه هم ارامي خط ليکنې د يوناني خط پېړۍ دي، چې د مخزيږ دي دريمې او څلورمې پېړۍ پورې اړه لري. ولې په لرغوني هند او ټکسلا کې په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځانګړي ډول په ټکسلا کې د ارامي ليکدود يو پخوانی ډبر ليک د کندنو په ترڅ کی وموندل شو، چې ۵۰۰ م ز کال شاوخوا زمانه پکې اټکلېدلی شي، هغه مهال چې ارامي ليک د فنيقياتو او بابليانو په وسيله د هند سهل ته ورسېد ...
«دغه ليک د مخزيږ دي ۷ پيری په شاوخوا کې «د يوه ناګری deva-naghri» ليکدود (ياني د خدايي يا شاهي ليکدود) د سنسکرت ژبې مبدا وګرځېده» [6] کوم ډبر ليک چې د ۵۰۰ مخزيږ دي شاوخوا په ټکسلا کې تر لاسه شو، بايد لومړی پدې وپوهېږو چې د ټکسلا د هېواد ټولواکمنی د چا تر واک لاندې وه؟
له يادي نېټې نه د مخه او يا يو څه وروسته کومو واکمنو چې په دغې موهمې سيمې واک چلولی دی لنډيز يې داسې دی:
- په ۵۱۸ م ز کال د دې سيمې واکمن ګشتاسب وه ، که څه هم په دې باب نظريات وېشلي دي،ځکه ويل کېږي چې دی دزر مخزيږدي په شاو خوا کې دواک چښتن و .
- په ۳۲۶ م ز کال د دې سيمې پاچا امبهی وه چې سکندر ته تسليم شو.
- په ۳۱۷ م ز کال چندراګوپتا د موريا کورنی بنسټ کېښود.
- په ۲۷۴م ز کال اشوک (اشوکا) يوه لويه ټولواکمنی جوړه کړه چې پلازمېنه يې ټکسلا وه او هديره يې هم دلته ده.
د ارامي ليک کوم ډبر ليک چې دلته وموندل شو، په ځنګ کې نور لسګونه لرغوني ډبر ليکونه د ټکسلا په موزيم کې ما (سنګروال) وځېړل چې نچوړاوخلاصه يې داسې دی:
۱ – د ملکې (Maya) د خوب ډبر ليک.
۲- دبيلا بيلودودونو ډبر ليکونه (a-n) 3rd – 2nd the renunciation phyllite
۳- د بودا لومړی وعظ، (first sermon)
۴- د بودا مړينه، (.....2nd – 3th AD) Death of Buddha mahaparnisvana
داسې په لسګونه ډبر ليکونه د ټکسلا په موزيم کې او ټکسلا ته څېرمه خانپور او د دغې سيمې په غرونو او غونډېيو کې له خاورينولوښو راواخله تر مسي (فلزاتو) پورې شتون لري، چې څو بېلګې يې وکښل شوې .
د جان مارشل (john marshal) په اند لا تر لاسه شوي ډبر ليکونه دا په ګوته کوي، چې خروشتي ليک له ارامي وروسته، چې د هخامنشيانو په وسيله (۵۰۰ م ز) دې سيمې ته لېږدېدلی دی او ټکسلا هم له دې وروسته د خروشتي ليکدول دود وپاله.[7]
د ساري په توګه د کندهار په زاړه ښار کې يوناني او ارامي يو ډبر ليک په ۱۹۵۸ ز کال تر لاسه شو، چې د ډبر ليک په تندي ۱۳ نيمې کرښې په يوناني او ۷ نيمې کرښې په ارامي ليکدول کښل شوې وې.
که څه هم په ډبر ليک کومه ځانګړې نېټه نه تر سترګو کيږي، خو داسې انګېرنې شتون لري، چې له سکندر نه وروسته د موريا کورنی په ځانګړي ډول د اشوکا د ټولواکمنی په مهال چې د دوئ واک تر کندهاره پورې رسېده، ښايي د غه او دېته ورته ډبر ليکونه د اشوکا د مهال وي چې د افغانستان د هغه مهال له ډبر ليکونو سره ورته برېښي.
«د لغمان (سنسکرت کې لمپاکا) کرغيو ته نږدې د شله ټک د غره په لمنه کې په ۱۳۴۸کال ډبرليکونه تر سترګو شول او له ارامی ليکدود نه داګيزه کېږي، چې ښايي د اشوکا د واک په مهال کښل شوی وي .»
پوهاند هنيګ په ۱۹۴۹ ز کال د لغمان ارامي ډبر ليکونو په اړه يوه مقاله خپره کړه، چې لرغونپوهانو ته ډېره د پام وړ وګرزېده.
همدا راز د ننګرهار په درونته کې هم «سونګ يون» يو شمېر ډبر ليکونه (۵۲۱ ز کال) ليدلي او د هغو يادونه يې کړېده.
له ارامي ليک سرېېره د «براهمي» brahmi پنوم يو بل ليکدول په هند کې شتون درلود. داسې نښې نښاني تر سترګو شويدي چې د افغانستان په ختيزو سيمو کې د اوه (۷) پيړيو په شاوخوا کې د خروشتی، يوناني، پهلوي او « ديوه ناګري » سره، براهمي ليک هم دود وو.[8]
د يوناني ليکدود نښې نښاني هم په افغانستان کې، ديو شمېر ډبر ليکونو په مخ ليدلی شويدي.
د برټش موزيم په انګړ کې دوه درې خوني د ای خانم او نورو لرغونو توکو لپاره ځانګړې شوې وې، چې تر ډېره بريده يې د يوناني کلتور دب دبه په ګوته کوله.
ما پدې باب يوه څېړنيزه مقاله خپره چې په هغې کې د يوناني ليکدود څو بېلګې هم وړاندې شوې دي. په څو کتيبو کې يوناني ژبې او يوناني ليکدود بېلګې هم کښل شوې دي، چې د ډېرو مينه والو پام يې راګرزولی وو.
له تخار نه پرته د افغانستان په يو شمېر نورو ولايتونو کې هم د يوناني ليکدود ډبر ليکونه تر سترګو شوې دي، چې موږ کابل، کندهار، تخار، سرخ کوتل او باګرام د ساري په توګه يادولی شو.
د خروشتي ليکدود کتيبې هم د افغانستان په ختيزو سيمو کې له مخزيږ دي دريمې پيړی نه را واخله تر پنځمې زيږديزی پېړ ی پورې ،چې يو ټاکلی مهال په ګوته کوي تر سترګو شوې دي او د ارامي ليکدود په څېر له ښي نه کيڼ لور ته ليکل کېده. دغه ليکدود تر ډېره بريده د ګندهارا په لويو ښارونو کې دودوو، چې موږ ټکسلا، ختن، ارغنداب، کندهار، ننګرهار (هډه)، بغلان، باجوړ، پېښور، اشنغر او په لسګوني نورې لوی او وړې سيمې يادولی شو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

«ویلسون په خپل کتاب اریانا انتیکوا کې پدې اړه داسې انګېرې چې ګنې پر لیپسې کتیبې له ختن نه راواخله تر افغانستان او شمالي هندوستان پورې شتون لري، چې په بېلابېلو لیکدودونو کارول شویدې .»[9]
مانا دا چې خروشتی د نه (۹) ژبو لیکدود دی ... چې ان د سنسګرت او پراکریت کتیبې هم پرې نوشته شویدې. له دې برسېره د ډېرو نامتو تولواکو لکه د یوناني، موریایي، باختري او کوشاني واکمنو کتیبی هم تر سترګو شوید ی.
د نړۍ په ډېرو وروسته پاتې هېوادونو کې ګڼ شمېر ډېر لیکونه چې بېلابېلو لرغونو ژبو پورې تړاو لري شته چې تر اوسه پورې ندي لوستل شوې ، په افغانستان کې هم ډېر ډېر لیکونه د هېواد په بېلابېلو سیمو او موزېمونو کې ګورو چې لوستل شوي ندي.
د ساري په توګه د خروشتي لیک نمونې د بیلګې په توګه یادولی شو، چې تر اوسه په بشپړه توګه ندي لوستل شوې.
له دې چې تېر شو، یادی کومې ژبې او یا د ډېر لیکونه، چې موږ یې یادونه وکړه، تر ډېره بریده یې له سیمه ییز ارزښت پرته نړیوال شهرت هم درلود.
ولې یو شمېر داسې سیمه ییزې ژبې او لهجې وې چې د لرغونپوهانو پام ورته ندی شوی او یایې نوم ندی اورېدلی، نو ځکه خو یې څېړنه پرې نده کړې. بلکې کومه خبره چې ډېره موهمه ده هغه دا چې یو شمېر بهرنیو هېوادونو د خپل واک د پراختیا لپاره پخپلو ګاونډیو بریدونه کړيدي ، نه یوازې هغه هېواد یې لاندې کړیدی، بلکې خپله ژبه او خپل لیکدود یې هم پرې تپلی دی.
همدا لامل دی، چې سیمه ییزې ژبې له لیکدوده و لېدلې ... او ان ډېر لیکونو ته یې هم لاره نده موندلې.
د مثال په ډول افغانستان یادوو، چې له هخامنشیانو نیولی تر یونانیانو او همدغسی تر موریایانو پورې چې دوی افغانستان ولکه کړی وو ، دوی نه یوازې خپل لیکدود پرې تپلی وو، بلکې خپل مذهب یې هم پرې منلی وو.
په افغانستان کې د اریایي او نا اریایایي ژبو د لیک لوست وده او پرمختګ وه، چې د تاریخی دورې پېدایښت، پرمختیا او پراختیا ته یې لاره پرانسته.

---

[1]) کهزاد احمد علي افغانستان د پرتو تاریخ لومړی مخ
[2] ) the prehistoric prior of Afghanistan by Louis Dupree journal Afghanistan no.3. 1967
[3]) رفیع حبیب الله د افغانستان لنډ کی تاریخ ۷ مخ
[4]) حبیبي پوهاند عبد الحی د افغانستان لنډ تاریخ ۲ مخ
[5]) سنګروال شهسوار د افغانستان د تاریخي جغرافیې څرنګوالی ۴۴۵ مخ
[6]) پوهاند حبیبي، تاریخ خط و نوشته های ۴۱۰۰ ۸ مخ
[7] ) john marshals guide to taxila p.78
[8] ) Cambridge history of india. i.p. 62/449
[9]) ویلسون اریانا انتیکوا لندن چاپ ۱۸۴۱ ز کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ